# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم    از آن به که کشور به دشمن دهيم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary-Cultural |
| --- | --- |

انجنير داؤد اخک
۱۰ می ۲۰۲۴

## سیلاب په شعر کي

سيلاب په انګليسي کي Syllable د يوناني Sillabikos څخه اخيستل سويدی چي معنا ئي ځپه ده، او په اوسني فارسي ادب کي هجا يا برخه ورته وايي. په پښتو کي د طبيعت ځښم او د اسمان غوڅي ته چی زيږي او ځښمېدلي اوبه پر مځکه را خوشي کړي سيلاب وايو چی له همدغه ادبي سيلاب سره نژدېوالی لري. ځکه چي طبيعي سيلاب هم د ځپو څخه جوړ دی، او په ادبي ډګر کي هم د کلمي يوې ږغيزي برخي (ځپې) ته سيلاب وايي. يعنی سيلاب هغه توری/ حرف يا توري دي، کلمي دي يا هغه ږغونه دي چي د ژبي په يوه حرکت اجرا کيږي. يا په يوه سا ويل کيږي. په ټوله کي هر توری/ حرف په ځانګړي ډول ځانته سيلاب دی، خو داسي کلمي هم لرو چي څو توري په ګډه سره يو سيلاب يا ځپه جوړوي. يعني سيلاب کېدای سي چي يو توری وي يا څو توري وي لکه: د، زه، ستا، مور، ورور، پلار، خوند، شخوند او نور.

اوس اصلي باندار پر دی دی چي ځني ښاغلي پښتانه ليکوالان پدې اند دي چي سيلاب د نظم يا شعر ملاک دی او نه بايد لږ او ډېر سي، يعني سيلابونه بايد په شعر کي مساوي وي، او استدلال کوي که په بيت کي سيلابونه لږ او ډېر سي سکتګي رامنځته کيږي او توازون ورانوي. ځني ښاغلي بيا دغه موضوع يوازي په پښتو شعر پوري تړي او ادعا کوي چي په پښتو شعر کي بايد سيلابونه مساوي وي. زه (ليکوال) چي له دې نظر سره په فيسبوک او حضوري باندارو کي هم مخامخ سوی يم موافق نه يم او دليل مي دا دی چي:

بېله شکه شعرونه د بيت او مصراع د تعداد پر بنسټ بېل فورمونه لري او دا هم ښکاره خبره ده چي د کلمو اوږدوالی يا لنډوالی په يوه بيت کي د سيلابونو پر تعداد باندی اثر کوي يعني د سيلابونو شمېر به په مصراعو کي لږ او ډېر کړي خو زه نه پوهېږم چي دغه ښاغلي به په کوم دليل، کوم قانون او کوم سند سره دی اند ته رسېدلي وي چی په شعر کي بايد د مصراعو سيلابونه مساوي وي او ولي بايد مساوي وي؟

تر کومه ځايه چي شعر پيژندنه موږ ته شعر راپيژني رشتيا هم چي سيلاب د شعر جز دی خو د وزن، خيال، احساس او ژبي په شان د شعراصلي رکن ندی. معنا دا چي سيلاب نه يوازي د شعر بلکه د هري کلمي (ويي) جز دی. هيڅ کلمه حتا هيڅ ږغ نسي کيدای چي بې سيلابه وي. عجبه دا ده چي موږ په پښتو لنډيو کي چي ډېر ښکلی او بې ساري فورم دی د سيلابونو توپير وينو چي لومړی مصرع ئې نهه او دوهمه ئې ديرلس سيلابه ده، خو په نورو فورمونو کي بيا توپير نه خوښوو. پداسي حال کي چي په فارسي اشعارو کي د سيلابونو توپير په پراخه کچه ليدل کيږي او هيڅ

ډول ستونزه نلري. زما (ليکوال) په اند ښه به دا وي چي دغه بې ضرورته مساوات په بيتونو کي جدي نه ونيساو ښاغلي شاعران پرېږدو چي په ډاډه زړه په مصراعو کي سيلابونه لږ او ډېر کړي خو په شرط د دې چي د عروضي قانون پر بنسټ وزن او قافيه متضرر نسي. لکه زما (ليکوال) دغه بيت:

**ښايسته او ګټور دی هغه ژوند      چي انسان وي د هدف سره پيوند**

زه لومړی مصراع داسي لنډوم:(ښکلی ګټور دی هغه ژوند). تاسو وينی چي دوه سيلابه پداسي حال کي کم سول چي نه په ښکلا او نه په معنا کي بدلون راځي، نه هم وزن او قافيه تاواني کيږي. حتا خپله ماته دوهم لنډ ډول خوند راکوي چي سيلابونه ئې کم دي. پس ويلای سو چي په شعر کی د وزن او نظم ساتلو لپاره سيلابي مساوات مهم ندی بلکه زما (ليکوال) په اند د کلماتو همږغي يا ږغيزه هم اهنګي ډېره مهمه ده. معنا دا چي د سيلابونو تساوي د وزن شرط هم ندی. ځکه چي ډيري داسي کلمې سته چي سيلابونه او توري ئې سره مساوي وي حتا اخيري توري ئې ګډه قافيه هم لري خو وزن ئې ځکه نه وي برابر چي همږغي کلمې نه وي. د غير همږغو کلمو کارول په بيت کي معلومداره وزن ته ضرر رسوي او سکتګی رامنځته کېږي. چي دغه حالت په ډېرو شعرونو کي ليدل کيږي. لکه لاندي بيتونه چي ما (ليکوال) د ثبوت لپاره جوړ کړيدي.

**يار مي راته ناست دی لکه ګُنګ – لاس ئې زما په لاس کي ښکل پر ځنګ.**

**چي مي وليده باغچه – پکښې شنه ول ډېر واښه.**

تاسو وينی چي په ګُنګ او ځنګ کي هم توري مساوي دي هم ئې سيلابونه مساوي دي او هم ئې اخيري توري ګډه قافيه لري، خو بيا هم د وزن خوند نسته. همداسی په باغچه او واښه کي تاسو وينی چي هم ئې توري مساوي دي، هم ئې سيلابونه مساوي دي او هم ئې اخيري توري هم قافيه دي، خو بيا هم وزن د خپلي نا برابری ښځه خوابدی دی.

ازاد شعر خو بېخي لاره ورکه کړېده. بله خبره دا ده چي په هر بيت کي د سيلابونو مساوات ساتل اسانه کار ندی او دا توپير د هر شاعر په شعرونو کي ليدل کيږي. لکه د خوشحال ختک پدغه بيت کي:

جدايي نسته وصال دی ځني بعد هم خيال دی

له هغه چی همخانه وم همخانه يم لا تر اوسه

د حمزه شينواري بيت:

خپله سم اوسه هر څوک سم دی

ځکه اغيار ويني چي ته هم يې غير

د صوفی عبدالرحمن بيت:

د پښتو شعر ئې هسي نامه يووړه

چي خبر ئې په اشعار ايران توران شه

د سليمان لايق بيت:

دا هماغه شوروی قهرمانان دي

دوی د يوې ټولنې نه دي د جهان دي

د عبدالباري جهانی بيت:

اوس په ساندو کيسي وزي له کابله

چي کوځي يې وي ښايستي په پېغلو حورو

د عبدالله انصاري بيت:

اگر بر روی اب خسی باشی

واگر به هوا پرمگسی باشی

پایله دا چي: وزن او قافيه په شعر کي د ښکلا شرط دی نه د سیلابونه (څپو) مساوات. سیلابونه (څپي) که مساوي وی لیکل او لوستل به ئي اسانه وي او ښه کار دی خو کومه ځانگړي گټه نلري، او که لږ او ډېر وي تاوان نلري. خو لوړ شرط باید پر ځای وي چی وزن او قافيه بې قدره نسي.

نوټ: راځئ چي د پښتو ژبي او پښتو ادب د سادگئ او ښکلا پر خوا ولاړ سو، نه د سختئ او پېچلتیا پر خوا.

۹- ۵ - ۲۰۲۴